حفیظ الله خالد

تاریخ: 13 نوامبر 2021

# د توپیرونو دنیا



یوخوا د سپرلي ګلـونــه بلخواته خزان
یوخواه رژیدلي پاڼی بلخواه سره ګلان

زموږه دا دنیـــا د توپیرونو مجموعه ده
یوخواه شین آسمان بلخواته وریځی او طوفان

ژوند هم د خوښیو او دردونو نه ده ډکه
کله هجران شــپه وي کله وصل د جانان

یو اخلي د خپل د ژوند، له هرګړی خوندونه
بـل بــیا د خـــپل ګیډی مــړولــو په ارمان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کله څوک خوښی نه په کالوکې نه ځایږي
کله بیا د ژونـــد پـــه کړلیـــچو کی سرګردان

لاره د ژوندون ترپـــایـــه ډکه له اغـــزو ده
څوک منزل ته رسي چی لري عزم او ایمان

ژوند پـه حقـیقت کلــه وړل کلــه بایلل دي
کلـــه بـــه ته ګـــــتـه کـړی او کله به تاوان

ما خالــد تــه هغــه انسـانـان د قــدر وړ دي
څوک چې په سختی کی مرستندوی وي د انسان

*****

خالد / ویانا

13 .11 .2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ